له ښېګڼې څخه څه شی سپک مه ګڼه، اګر که د خپل ورور سره په ورین تندي مخامخ شې

له أبو ذر رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې ماته رسول الله صلى الله عليه وفرمایل: «له ښېګڼې څخه څه شی سپک مه ګڼه، اګر که د خپل ورور سره په ورین تندي مخامخ شې».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په نیکۍ کولو ټینګار کړی، او دا چې (څوک) یې سپکه ونه ګڼي که څه هم لږه وي، لکه له یو چا سره په موسکا کې په ورین تندي مخ کېدل، نو مسلمان ته په کار دي چې پاملرنه ورته وکړي؛ ځکه چې پدې کې د یو مسلمان ورور ته سکون ورکول او خوشحالول دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5348